# يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ: مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ حَتَّى يَقُولَ: مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ وَلْيَنْتَهِ». «شيطان ستاسو څخه يو ته راځي او وايي: دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ تر دې چې ووايي: ستا رب چا پيدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېده، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودريږي

له ابو هريرة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمايلي دي: «يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولُ: مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ حَتَّى يَقُولَ: مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ وَلْيَنْتَهِ». «شيطان ستاسو څخه يو ته راځي او وايي: دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ دا فلانی شی چا پيدا کړی؟ تر دې چې ووايي: ستا رب چا پيدا کړی؟ نو کله چې دې حد ته ورسېده، نو په الله دې پناه وغواړي او نور دې ودريږي».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو پوښتنو په اړه چې شيطان يې مؤمن ته وسوسې ور اچوي د مؤثرې درملنې څخه خبر ورکوي. شيطان به ووايي: دا فلانی چا پيدا کړی دی؟ دا فلانی چا پيدا کړی دی؟ څمکه چا پيدا کړې ده؟ نو مؤمن به ورته د دين، فطرت او عقل له مخې پدې وينا سره جواب ورکړي چې: الله، خو شيطان د وسوسې اچولو لدې حد سره نه ودريږي، بلکې بل پړاو ته ځي تر دې چې ووايی: ستا رب چا پيدا کړی دی؟ بيا مؤمن په دريو کارونو سره دغه وسوسه له منځه وړي: په الله تعالی باندې په ايمان لرلو سره. او له شيطان څخه په الله جل جلاله باندې پناه وړلو سره. او په وسوسو کې له مخکې تللو څخه په ودرېدلو سره.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65013